# د غفلت خلاف انقلاب

اورنګزیب خان

که نصب العین یا ائیډئیل پالیسي د خدائې پاک رضا او رغبت،دوستي او ملګرتیا حاصلول وي نو هغه د ټولو نه ښه دوست، ښه حامي، ښۀ ناصر او ښه وکیل دے. دا یو داسې لار ده چې د فرد په اختیار کښې ده. که یو فرد د خدائې پاک د رضا او توجو حاصلولو دپاره د خېرښېګړې،انساني فلاح او آزادۍ،امن او سوکالۍ دپاره زیار باسي نو خدائې پاک لخوا په دنیا او اخرت کښې د نجات او کامیابۍ راز لاس ته راوړي. پېغمبرؐ فرمائي چې هم زرۀ د ټول بدن د درست کېدو یا مفید کېدو ذمه دار دے. یعنې که د انسان زرۀ درست شي نو د دۀ ټول بدن به درست شي او د حق او باطل د رښتیا او دروغو، د صحیح او غلط او د هدایت او ضلالت تجزیه کول او د صحیح لوري او پرمختګ نشاندهي به ور ته اسانه شي.

حقیقت دا دے چې څنګه د جوار، غنم یا د هر فصل او بوټي کرلو دپاره خدائې پاک مونږ ته هنر راکړے دے نو دغسې د ایمان،صداقت،عدل او انصاف غوندې تخمونو زرغونولو دپاره د مزکې کار د انسان زرۀ کوي. څنګه چې د یو فصل کرلو دپاره خلق پټي جوړوي او هغه ور ته د تخم ور اچولو نه مخکښې تیاروي چې ښه فصل راوچت شي نو هم دغسې مونږ ته هم د الٰهی احکامو په کامیابۍ سره د راوچتولو او هغه کمال ته د رسولو دپاره د زړۀ مزکه تیارول اړین او لازمي وي. د دې دپاره د خدائې پاک اولنے هدایت په ژوند کښې د احتیاط،پرهیز،عدل و انصاف،تقویٰ او د انساني فضیلت برقرار ساتلو دپاره د استقامت ټینګول دي چې په هیڅ وخت او حال کښې د تقویٰ یعنې د الٰهی خوف او نارضائیت نه غافل نه شو. هر وخت ویښ او بېدار وسو او چرې هم قصداً امداً بدو کارونو او عملونو ته بډې را نه کاږو او خپل ځان په خپله د ابدي تباهۍ یعنې غفلت کندې ته اونه غورځوو. یو درست زړۀ یو ویښ،بېدار او فعال زړۀ وي چې هغه د غفلت نه پاک،پُریقینه، صحتمند او د هر قسم خوف،شک، ډار او د مرګ د ویرې نه آزاد او جریر(جري او بهادر) وي.

حقیقت دا دے چې په دې پالیسۍ کښې مونږ یو انقلابي تعلیم لرو چې هغه د غفلت، سستۍ،بزدلۍ،بې ننګۍ او بې عزتۍ نه پاک، ویښ،بېدار،زړۀ ور او جراتمند نفوس راوچتول

وي چې د خلقو د اصلاح او ترمیمولو کار خپل نفس او ضمیر په میزان کولو اهلیت او صلاحیت لري. د دې پالیسۍ تعلیم کولے شي چې مونږ بهترین حاکمان،امران،مدیران او معینان او رو رو ټولنې ته ئې د حکومت دپاره وړاندې کوو او ټولنه متحرک کړو.

حقیقت دا دے چې د خلقو د غفلت د خوب څخه راویښول او هغوي بېدارول چې په خپل ژوند کښې د مرګ نه مخکښې د قبر دپاره د خپر ښېګړې کارونه وکړي. مرګ حق دے او ارو مرو مونږ کښې هر یو به دغه ترخه پیاله یو وخت ګوټې. چې د کوم نه سترګې پټول نه دي په کار. دا حقیقت دے چې مرګ شته خو د مرګ نه هم قیمتي او ابدي شیان شته چې ډېرو خلقو د خپل پت،عزت،ناموس،جائیداد او ملکیت بچ کولو دپاره دغه پیاله ډېره په خوشحالۍ او جرات سره څښلې ده او دا ځکه چې دا ور ته هغه مرګ نه ښه ښکارېدل چې په ګونټو، زارو او معافو، بې عزتۍ او سوال کښې مړ شي او د خپل حق چې خدائې پاک ورکړے دے د حصول او رانیولو دپاره خپل ذمه داري ثابت نه کړي. مونږ بحیثیت پښتون یو ذمه دار قوم یو. مونږ ته د ایمان د تعلیم ضرورت نشته. دلته هر وګړے په پښتو کښې یو مومن، امن پسنده او آزاد، خپلواک او خودمختار زړه، نفس او ضمیر لري. د دۀ د غفلت وجه غلطي نه ده. ځکه چې دا یو داسې نفس دے چې نه چا غلط کړو او نه ئې څوک غلطولے شي خو دا هم نه کوي چې بل غلط کړي او یا ئې د غلطولو کوشش وکړي بلکې د دۀ طبع او مزاج دا یو نیچ،پریوتے او شیطاني کار ګڼي چې یو څو دغې د حق،صداقت، عدل او انصاف د حصول نه لرې په بله ور له مخ واړوي او بې لارې ئې کړي. دا په مونږ د خپل ډېر لوئې پالونکي ډېره لویه لورینه او پیرزوینه ده چې مونږ ته ئې د حیاء او تقویٰ تعلیم په فطرت کښې ودیعت کړے دے. مونږ دپاره د قرآن تعلیم د نور اعلیٰ نور کار وکړو او د هر قسم عذر، فکر، دروغ یامخۍ او شک شبې څخه ئې کاملاً آزاد کړو.

حقیقت دا دے چې مونږ پښتو د ځان دپاره د خدائې پاک یو ډېر لوئې نعمت ګڼو او مونږ به چرې هم د دې نعمت ناشکري ونه کړو او د دې حقیقت نه به منکر نه شو چې مونږ دا د ځان او جهان دپاره رحمت ګڼو. حقیقت دا دے چې پښتون په دغه نړۍ کښې د الٰهي رحمت علامت دے او مونږ به د دې رحمت کښې قصدي او ناشکري چرې هم ونه کړو او تل به خپله پښتو لکه د وتلي ستوري تل وتلې ساتو او په هر حال، هر وخت او هر حال کښې به ئې پالنه کوؤ.

☆☆☆